**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په بې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښایي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

# تقنیني شننه

## I. د سند عنوان: د شکایتونو اورېدلو قانون

## II. سریزه

1. **د تقنیني سند لنډیز:** د شکایتونو د اورېدلو قانون د ۲۰۲۳ زېږدیز کال د سپتمبر د میاشتې په ۷ مه نېټه (چې له ۱۴۰۲/۰۶/۱٦ یا ۱۴۴۵/۰۲/۲۱ سره سمون خوري) د اوسني نظام د مشرتابه لخوا په ۴۱۲ ګڼه صادر شوي فرمان سره تصویب شوی دی. نوموړی قانون یوه سریزه، دوه فصلونه او درویشت (۲۳) مادې لري او د اوسني نظام د چارواکو او کارکوونکو پر وړ اندې د شکایتونو د اداره کولو کړنلارې په ګوته کوي چې موخه یې د عدالت تأمین او د شکایتونو حلول دي.

2. **د یاد سند حقوقي بنسټ:** دا قانون د اوسني نظام د مشرتابه له لورې د ۲۰۲۲ زېږدیز کال د سپتمبر د میاشتې په ۵ مه نېټه (چې له ۱۴۰۱/۰٦/۱۴ یا له ۱۴۴۴/۰۲/۰۸ سره سمون خوري) د ۱۱۳ ګڼه صادر شوي فرمان پر بنسټ دی. دا اتباعو ته رسمي میکانیزم برابروي ترڅو د اوسني نظام د ادارو د چارواکو او کارکوونکو اړوند د هغوی د غیر قانوني چلند او نور شکایتونو په اړه راپور ورکړي.

3. **د تطبیق ساحه:** دا قانون د اوسني حکومت د چارواکو او کارکوونکو پر وړاندې د اشخاصو لخوا په درج شویو ټولو شکایتونو باندې تطبیقېږي. دا د اوسني نظام د چارواکو مکلفیتونه، د شکایتونو د درجولو او پروسس کولو لپاره کړنلارې او د شکایت کوونکي د خوندیتوب لپاره اقدامات بیانوي.

4. **مسؤوله اداره:** هغه مهمه اداره چې د شکایتونو د اورېدلو قانون د پلي کولو مسؤولیت پر غاړه لري، د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو د اورېدلو وزارت (چې له دې وروسته به په دې سند کې یوازې وزارت ذکر کېږي) دی. یاد وزارت یادونه کوي چې په ټولو دولتي ادارو کې د شکایتونو بکسونه شتون لري چې د دغو شکایتونو د اورېدلو او حلولو لپاره ۲۰۰

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په بې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښایي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

کارکوونکي کار کوي. د نوموړي وزارت د معلوماتو له مخې، د مېرمنو لخوا د شکایتونو د ثبت لپاره ځانګړي میکانیزمونه شته او د شکایتونو د ثبتولو لپاره د اړیکې نیولو په موخه څلور شمېرې هم شتون لري. په رسمي ویب پاڼو کې د موجودو مالوماتو پر بنسټ، بېلابېل وزارتونه د شکایتونو د درجولو یا اورېدلو لپاره ځانګړې شمېرې لري. د بېلګې په ډول: د ملي دفاع وزارت د آزار او ځورونې یا ناوړه چلند په اړه د راپور ورکولو لپاره یوه وړیا شمېره او د وټساپ له لارې د اړیکې شمېره ورکړې ده. د ځمکو د غصب د مخنیوي کمېسیون پر وړاندې شکایتونه دې ځانګړې محکمې ته د څېړنې او حلولو لپاره وړاندې شي.

5. **اهمیت:** په نظري ډول، د شکایتونو میکانیزمونه او قانون چې خلکو ته وړتیا ورکوي ترڅو دولتي ارګانونو ته شکایتونه ثبت کړي، په هر هېواد کې د قانون حاکمیت د برقراره ساتلو لپاره مهم دي. دا میکانیزمونه د حساب ورکونې، روڼتیا او د اتباعو د حقونو ساتنه تضمینوي، په ځانګړې ډول په داسې یوه هېواد کې چې په خپلو ادارو باندې د خلکو د باور او ثبات رامنځته کولو هڅه کوي. دوی اتباعو ته اجازه ورکوي ترڅو دولتي چارواکي مسؤول وګڼي او له ځواک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مخه ونیسي. د شکایتونو د رسمي پروسې په چمتو کولو سره، دا میکانیزمونه روڼتیا ته وده ورکوي او د عادلانه حکومتولۍ لپاره د حکومت ژمنتیا څرګندوي.

سربېره پردې، دوی د خلکو د شکایتونو د حل لپاره یوه منظمه لار وړاندې کوي، ډاډ ترلاسه کوي چې قربانیان کولای شي خپل شکایت ورسوي او چارواکي کولای شي دغه ستونزې وڅېړي او حل یې کړي. برسېره پردې، دا ډول میکانیزمونه د ارزښتناکو رغنده نظرونو په وړاندې کولو او د حکومت د کړنو او اقداماتو د اغېزمنتیا او غبرګون تضمینولو لپاره د حکومتولۍ او عامه خدمتونو په غوره کولو کې مرسته کوي. د قانون له لارې د دغو میکانیزمونو رامنځته کول ډاډ ترلاسه کوي چې یو پیاوړي قانوني چوکاټ لخوا یې ملاتړ کېږي، د شکایت کوونکو لپاره روښانه لارښوونې او خوندیتوبونه برابروي او په ټوله کې په حکومتولۍ باندې د خلکو باور لوړوي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لخوا د افغانستان د قانون حاکمیت څارونکي ویب پاڼې (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د لا زیاتو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره، مهرباني وکړئ زموږ ویب پاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په بې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښايي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

## III. تشریح او شننه

### 1. مهم اصطلاحات:

لاندې حقوقي او تخنیکي اصطلاح ګانې د دې قانون په منځپانګه کې تطبیقېږي او ددې قانون د حکمونو په اړه پوهاوي کې به مرسته وکړي، که څه هم په دې قانون کې ټولې اصطلاح ګانې په صراحت سره نه دي تعریف شوې:

— **ځواب ورکونه:** د خپلو کړنو او پرېکړو د ځواب لپاره د چارواکو مکلفیت.

— **اداري بیاکتنه:** هغه بهیر چې له لارې یې یو دولتي ارګان د یو شکایت په غبرګون کې په خپلو پرېکړو یا کړنو له سره غور کوي.

— **بې بنسټه شکایت:** هغه شکایت چې په کافي اندازه شواهد یا وړتیا نه لري.

— **شکایت کوونکی (شاکي):** هغه شخص چې وزارت ته شکایت کوي.

— **شکایت:** د اوسني نظام د ادارو مسؤلینو یا کارکوونکو د ناوړه چلند په هکله په لیکلې یا شفاهي ډول خبر ورکول دي.

— **د محکمې اجراآت:** په یوه محکمه کې د حقوقي شخړو او قضیو په اړه د پرېکړې کولو بهیر ته ویل کېږي.

— **هغه شخص چې شکایت ترې شوی (مشکوّ):** د یو شکایت د ثبتولو په شرایطو کې بدیلې اصطلاح ګانې کارول کېدلای شي، لکه: ځواب ویوونکی، د شکایت فاعل/موضوع، یا تورن مدعي علیه. دا اصطلاح هغه شخص یا اداري ته کارول کېږي چې د چا پر وړاندې شکایت شوی وي، د محکمې د اجراآتو د څرګندولو پرځای د شکایت په موضوع تمرکز کوي.

— **هیئت:** هغه ډله اشخاص چې د یو شکایت د اعتبار تصدیقولو لپاره ګمارل شوې ده.

— **صدیق:** صداقت یا صدق د یو شخص په کړنو او الفاظو کې د اخلاص او ریښتینولۍ مانا لري. دا د مؤمن یو مهم صفت دی، ځکه چې په قرآن او حدیث کې پرې ټینګار شوی دی.

— **مداخله:** د محاکمو په اجراآتو کې د اوسني نظام د چارواکو لخوا غیر قانوني ښکېلتیا ته ویل کېږي.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په ښې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښايي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره والي تضمین يې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

— **عدالت غوښتنه:** د حقوقي نظام له لارې د حل او حق ترلاسه کولو بهیر.

— **ورک شوي اشخاص:** هغه اشخاص چې ځای يې نامعلوم وي، ډېری وختونه په سیاسي شرایطو یا د امنیت اړوند توقیف خونو کې.

— **تقوا لرونکی (متقي):** تقواء د الله تعالی په اړه د یو شخص شعور او د اسلامي اصولو سره سم ژوند کولو ته د هغوی ژمنتیا ته اشاره کوي. په دې کې د روحانیت ژور احساس او مذهبي دندو ته غاړه ایښودل شامل دي.

— **سیاسي جرم:** د سیاسي فعالیتونو اړوند جرم یا د حکومت مخالفت دی.

— **لمونځ کوونکی (مصلي):** لمونځ ګذاري د یو شخص لخوا په منظم ډول د ورځې پنځه وخت لمونځ کولو ته اشاره کوي، چې دا د اسلام یو اساسي رکن دی. دا د یو شخص دینداري او خپلې عقیدې ته ژمنتیا ځرګندوي.

— **عامه پوهاوی:** د خپلو حقوقو او د شکایت بهیر په اړه د عامه خلکو د خبرولو هڅې.

— **ګواښ:** هر هغه عمل یا ځرګندونې چې شکایت کوونکی وېروي یا يې له خطر سره مخ کوي.

— **روڼتیا:** د دولتي بهیرونو او پرېکړو په اړه د روښانه او خپلواکه اوسېدلو کیفیت.

— **امانت دار (الامین):** په شریعت کې امانتداري په دې مانا ده چې په معاملاتو کې صادق او عادل او د وخت پابند اوسېدل او د امانتونو/باورنو او ژمنو درناوی کول دي. دا په اسلام کې یو بنسټیز فضیلت او ارزښت لري، چې د قرآن او حدیث په زده کړه کې ریښې لري. په افغانستان کې یو امانتدار شخص څخه تمه کېږي چې بشپړتیا او اعتبار وساتي، ډاډ ترلاسه کړي چې د تائید بهیر په صادقانه توګه او له تعصب پرته ترسره کېږي.

— **تائید:** د یو شکایت د اعتیار تصدیقولو بهیر دی.

— **منکر:** غیر اخلاقي یا ناوړه چلند چې د اسلامي شریعت او ټولنیزو نورمونو سره په ټکر کې وي. په افغانستان کې منکرات له هغو اعمالو څخه عبارت دي چې د اسلامي لارښوونو سره سم ګناه یا زیانمن ګڼل کېږي چې د امر باالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت لخوا اصلاح کېږي.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په بې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښایي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه تولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

— **معروف:** هغه چلند یا کړنه چې د لوړو اخلاقي معیارونو، تقواء او د اسلامي اصولو پیروي څرګندوي. په افغانستان کې معروف هغه اعمالو او چلندونو ته راجع کېږي چې له اسلامي لارښوونو او ټولنیزو نورمونو سره سمون خوري، د امر باالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت لخوا د نافذو اخلاقي چلندونو ته وده ورکوي.

2. **د شکایتونو قانون پر بنسټ حقوق:** دا قانون د اتباعو یا اشخاصو لپاره ډېرې حقوق او امتیازونه پېژني، لکه:

— **د شکایت کولو حق**

اتباع یا وړي حق لري چې د امارتي ادارو د کارکوونکو او چارواکو پر وړاندې شکایتونه درج کړي. دا شکایتونه په لیکلې بڼه، شفاهي بڼه یا په ځینو استثنایي مواردو کې د ټیلیفون له لارې درج کېدلای شي. (۷ مه ماده).

— **د خوندیتوب او امنیت حق**

وزارت مکلف دی چې د شکایت کوونکي خوندیتوب او امنیت تضمین کړي او له هر ډول ګواښونو څخه یې خوندي وساتي. دا ماده موخه لري ترڅو اشخاص وهڅوي چې د انتقام له وېرې پرته له خپلو شکایتونو سره مخ ته راشي (۱۳ ماده).

— **معلوماتو ته د لاسرسي حق**

وګړي حق لري چې د ورک شوي شخص په اړه مالومات وغواړي. وزارت مکلف دی چې د اشخاصو د ورکېدا په اړه له اړوندو ادارو څخه د معلوماتو غوښتنه وکړي (۱٦ ماده).

— **د سیاسي توقیفونو د حلولو حق**

که یو شخص د سیاسي لاملونو له کبله ونیول شي او د نیول شوي شخص برخلیک له یوې میاشتې څخه تر زیاتې مودې پورې معلوم نه شي، نو خلک د شکایت درجولو حق لري. وزارت به موضوع تعقیب کړي ترڅو د شخص د وضعیت په اړه اطمینان ترلاسه شي ( ۱۷ ماده).

— **د عادلانه/نیک چلند حق**

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په بې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښایي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین يې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

د شکایتونو د اورېدلو مؤظفین مکلف دي، له شاکي سره نېک چلند وکړي، حتی که دوی احساساتي وي او تېزو الفاظو خبرې وکړي. دا تضمینوي چې په ټول بهیر کې شکایتونو سره په درناوي او صبر او زغم چلند وشي (۲۱ ماده).

— **د عدالت غوښتنې حق**

شکایت کوونکي (شاکي) حق لري چې د اسلامي شریعت سره سم خپل شکایتونه وکړي او سپارښته کېږي چې له بې بنسټه شکایتونو څخه ډډه وکړي. که چېرې یو شکایت بې بنسټه ثابت شي، وزارت کولای شي شاکي په مناسب ډول توصیه کړي. که هغه د محکمې غوښتنه وکړي، محکمې ته دې یې وسپاري. (۱۹ ماده)

— **د نه لاسوهنې حق**

اتباع حق لري چې د محکمې په جریان کې د امارتي مسؤلینو او منسوبینو له لاسوهنې څخه شکایت وکړي. وزارت به دا ډول شکایتونه وڅېړي، که بیا هم موضوع حل نه شوه، نو لوړ پوړو ادارو ته لېږل کېږي. (۱۴ ماده)

— **د استیناف او تشدید حق**

که د قاضیانو یا چارواکو پر وړاندې شکایتونه په سمه توګه نه اداره کېږي، خلک حق لري چې د اوسني حکومت امیر المؤمنین په ګډون لوړ پوړو مقاماتو ته نوموړې موضوع ورولېږي. (۱۱ او ۱۲ مادې)

— **د رڼو بهیرونو حق**

وزارت مکلف دی چې د شکایتونو د ثبت لپاره کتاب ترتیب کړي، داډ ترلاسه کړي چې ټول شکایتونه ثبتېږي او تعقیب کېدلای هم شي. دا د شکایتونو په اداره کولو کې روڼتیا او حساب ورکونې ته وده ورکوي. (۸ ماده)

3. **مسؤلیتونه:** دا قانون د شکایتونو کوونکو خلکو او د دغو شکایتونو د حقیت د تثبیت چارواکو او هیئت دواړو ته ځینې مسؤلیتونه رامنځته کوي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

أ. **د چارواکو مسؤلیتونه:**

— **د شکایتونو ترلاسه کول او ثبتول**

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په ښې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښايي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین يې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

وزارت، د خلکو شکایتونه د شاکي او مشکوّ د بشپړو مشخصاتو له درج سره په ځانګړې فورمه کې د ترلاسه کولو مسؤولیت پر غاړه لري. (۷ (۱) ماده)

— **د شکایتونو د حقیت تثبیت**

وزارت مکلف دی چې د شاکي د شکایت له اخیستلو د شکایت د حقوالي په اړه د مشکوّ د مسؤولیت ساحې ته له معتمدو، متدینو، امانتدارو او لمونځ گذارو اشخاصو څخه یو هیئت ولېږي. (۹ ماده)

— **د خوندیتوب او امنیت تضمینول**

وزارت باید د شکایت کوونکو (شاکي) خوندیتوب او امنیت تضمین کړي او له هر ډول گواښونو څخه يې وژغوري.(۱۳ ماده)

— **د امارتي ادارو پر وړاندې شکایتونو ته رسیده گي**

که مسؤوله اداره شکایت په سمه توگه رسیده گي نه کوي، وزارت به د دې قضیې په اړه پوره معلومات د غور کولو لپاره له یادې ادارې څخه وغواړي. (۱۰ ماده)

— **د محکمې په جریان کې د لاسوهنې حلول**

وزارت د محکمې په جریان کې د اماراتي مسؤولینو او منسوبینو د لاسوهنې په اړه شکایتونه حلوي او که حل نه شوې، نو پورته مقاماتو ته به یې ولېږي. (۱۴ ماده)

— **له شاکي سره نېک چلند**

د وزارت د شکایتونو د اورېدلو مؤظفین مکلف دي، له شاکي سره نېک چلند وکړي، حتی که دوی احساساتي وي او په تېزو الفاظو خبرې وکړي. (۲۱ ماده)

— **د شکایتونو د اصلاح لارښوونه**

د وزارت اړونده اداره باید شاکي ته لارښووه وکړي ترڅو خپل شکایت اصلاح او تعدیل کړي، که دا د شکایت لیکنې اصولو خلاف لیکل شوی وي. (۱۹(۴) ماده)

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لخوا د افغانستان د قانون حاکمیت څارونکي ویب پاڼې (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د لا زیاتو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره، مهرباني وکړئ زموږ ویب پاڼې [www.arlo.online](http://www.arlo.online) ته لاړ شئ.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په ښې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښايي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

**4. د شکایت د ثبت کړنلاره:**

— **د شکایتونو ترلاسه کول:** د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت (له دې وروسته یوازې «وزارت» لیکل کېږي» په لیکلې یا شفاهي بڼه د شکایتونو ترلاسه کولو مسؤولیت لري. په بېړنیو حالتونو کې د شفاهي شکایتونو لپاره ځانګړي احکام او مقررات رامنځته شوي چې باید وروسته مستند شي.

— **د شکایتونو ثبت:** د شکایتونو د ثبت رسمي کتاب باید وساتل شي او د هر شکایت اړوند بشپړ معلومات درج کړي.

— **د شکایت د حقیت تثبیت:** د باور وړ اشخاصو یو هیئت دنده لري چې د محلي څېړنو له لارې د شکایتونو اعتبار تائید او تثبیت کړي.

— **د ځانګړو شکایتونو رسیده ګي:** د اوسني حکومت د ادارو، قاضیانو او د محکمې د جریان په ګډون د بېلابېلو ادارو پر وړاندې د شکایتونو رسیده ګۍ لپاره کړنلارې ځانګړې شوې دي.

**5. مداخله او حل:**

— **د مسؤولینو او منسوبینو پر وړاندې شکایت:** که چېرې د یو داسې ناوړه چلند چې جرم ګڼل کېږي، په اړه شکایت وشي، وزارت باید د حقوقي اصولو له مخې اقدام وکړي او لوړ پوړو مقاماتو یا محکمو ته په احتمالي ډول نا حل شوي موضوعات ور ورسوي.

— **د محکمې په جریان کې لاسونه:** د محکمې په جریان کې د لاسوهنې په اړه شکایتونه باید له اړوندو مقاماتو سره شریک کړي او نا حل شوي موضوعات لوړ پوړو ادارو ته ورسوي.

**6. ځانګړي حکمونه:**

— **ورک شوي اشخاص او سیاسي محبوسین:** ځانګړې مادې د ورک شویو اشخاصو او د سیاسي لاملونو له کبله محبوسینو په اړه شکایتونه حل او فصل کوي او وزارت مکلفوي چې معلومات ترلاسه او موضوع تعقیب کړي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لخوا د افغانستان د قانون حاکمیت څارونکې ویب پاڼې (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د لا زیاتو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره، مهرباني وکړئ زموږ ویب پاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په بې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښایي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون وموومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

— **له شکایت پرته بیا کتنه:** وزارت واک لري چې حتی د رسمي شکایت د نشتوالي په صورت کې د حقونو څخه سرغړونې وڅېړي او په اړه یې راپور ورکړي.

— **د شاکي (شکایت کوونکو) خوندیتوب:** قانون د شاکي (شکایت کوونکو) د خوندیتوب او امنیت برابرولو امر کوي ترڅو د غچ اخیستنې مخه ونیسي او عادلانه بهیر تضمین کړي.

## IV. اغېزې

**1. احتمالي مثبتې اغېزې:** دا برخه په هغو مثبتو پایلو تمرکز کوي چې ښایي په افغانستان کې د شکایتونو د اورېدلو قانون له پلي کېدلو څخه رامنځته کېږي.

— **په حکومت د عامه باور زیاتوالی:** د شکایتونو د ثبت او حل لپاره د یو منظم میکانیزم په وړاندې کولو سره، قانون کولای شي په دولتي ادارو د خلکو باور ته زیات کړي. ډېر احتمال لري چې خلک د حکومت په عادلانه والي او ځواب ویلو باندې باور وکړي کله چې دوی وګوري چې د دوی شکایتونه په جدي توګه اخیستل کېږي او په اغېزمنه توګه حل کېږي.

— **د مسؤولینو او منسوبینو غوره حساب ورکونه:** د شکایتونو د حل لپاره رسمي پروسه کولای شي د اوسني حکومت د مسؤولینو او منسوبینو ترمنځ د زیاتې حساب ورکونې لامل شي. په دې اړه پوهېدل چې د ناوړه چلند په اړه د راپور ورکولو او څېړلو لپاره یو نظام او سیستم شتون لري، کولای شي په ناوړه چلند کې له ښکېلتیا څخه د چارواکو مخنیوی وکړي چې له دې کبله حکومتولي غوره او ښه کېږي.

— **عدالت ته لاسرسي ته وده ورکول:** په بېلابېلو بڼو (لیکلې، شفاهي یا د ټیلیفون له لارې) د شکایتونو د سپارلو لپاره د قانون احکام د بې سواده یا په لیرې پرتو سیمو کې د خلکو په ګډون ټولو خلکو ته عدالت ته د لاسرسي کچې ته وده ورکولای شي. دا ګډون او شمولیت تضمینوي چې ډېری خلک کولای شي خپل حقونه ترلاسه کړي او د شکایتونو د حل غوښتنه وکړي.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په ښې پرې والې، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښایي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

— **د زیانګالو ډلو خوندیتوب:** د شاکي (شکایت کوونکو) د خوندیتوب او امنیت لپاره د قانون صریح احکام زیانګالو ډلو ته اړین خوندیتوب برابرولای شي، دوی هڅوي چې د غچ اخیستنې له وېرې پرته را مخ ته شي. دا په ځانګړې ډول د افغانستان په اوسنیو ټولنیز-سیاسي شرایطو کې مهمه ده، چېرې چې د غچ اخیستنې وېره کولای شي د عدالت غوښتنې څخه د خلکو مخه ونیسي.

— **د مدني ښکېلتیا وده:** قانون خلک هڅوي ترڅو د خپلو شکایتونو د بیانولو او د مسؤولینو او منسوبینو مسؤول ګڼلو لپاره د یو رسمي لارې په چمتو کولو سره په حکومتولۍ کې برخه واخلي. دا ښکېلتیا خورا فعال او باخبره خلک رامنځته کولای شي چې د یوې فعالې مدني ټولنې په رامنځته کولو کې به مرسته وکړي.

— **د سیاسي حبس قربانیانو ملاتړ:** د ورک شویو اشخاصو او سیاسي محبوسینو په اړه د شکایتونو د رسیده ګۍ احکام او قوانین تضمینوي چې دولت په توقیف کې د اشخاصو سره د چلند پر وړاندې مسؤول دی. دا د معلوماتو او عدالت په لټه کې د کورنیو او قربانیانو لپاره هیله او ملاتړ رامنځته کوي.

## 2. احتمالي منفي اغېزې:

دا برخه په هغو فوري منفي اغېزو باندې تمرکز کوي چې په قانون کې د ابهاماتو او خالیګاوو له امله ښایي را پورته شي.

— **د نامعلومو شکایتونو په اړه د احکامو د نشتوالي له امله مخنیوی:** قانون په صراحت سره نامعلومو شکایتونو ته اجازه نه ورکوي، له شکایت کوونکو (شاکي) څخه د هغوی د بشپړ نوم او آدرس په اړه د معلوماتو وړاندې کولو غوښتنه کوي. دا کار کولای شي چې د غچ اخیستنې د وېرې له کبله د شکایتونو د ثبت لپاره د اشخاصو مخه ونیسي چې د شکایت د میکانیزم بشپړه اغېزمنتیا راکموي.

— **د محرمیت ناکافي تدابیر:** که څه هم په قانون کې د شکایت کوونکو (شاکي) د خوندیتوب او امنیت لپاره احکام شامل دي، خو دا د شخص پېژندنې معلوماتو د محرمیت ساتلو په اړه روښانه لارښوونې نه لري. دا تشه/خالیګاه ممکن خلک وهڅوي چې له خپلو شکایتونو څخه مخ ته راشي او وېره لري چې د دوی هویت به افشاء شي او دا به یې د غچ اخیستنې لامل شي.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په بې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښايي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه تولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

— **د قضايي شکایتونو رسیده ګي:** د قاضیانو پر وړاندې شکایتونه لومړی د اړوندې محکمې له عالي قاضي سره شریکېږي (۱۱ ماده). دا بهیر ښايي بې پرې والی تضمین نه کړي، ځکه چې دا له خپلواک نظارت او څارنې پرته په داخلي قضايي میکانیزمونو ډېره تکیه کوي.

— **د بې بنسټه شکایتونو جزاء:** قانون وزارت ته اجازه ورکوي ترڅو هغو شکایت کوونکو (شاکي) ته مشورې ورکړي چې بې بنسټه شکایتونه وړاندې کوي او دوی د اړتیا په صورت کې محکمې ته راجع کړي (۱۹ ماده). دا ماده په ځانګړې ډول د بې بنسټ شکایتونو لپاره د نا تاکل شوي معیار په پام کې نیولو سره د ثابت شوي بې بنسټه شکایت لپاره د مجازات کېدو له وېرې د مشروع شکایتونو د ثبتولو څخه د اشخاصو مخه ونیسي.

— **د محکمې په جریان کې لاسوهنه:** د اماراتي مسؤلینو او منسوبینو لخوا د لاسوهنې په اړه شکایتونه لومړی له مشکوّ او بیا د نه حل کېدو په صورت کې له اړوندې اداري سره شریکېږي (۱۴ ماده). دا بهیر ښايي په اغېزمنه توګه د لاسوهنې قضیې حل نه کړي، ځکه چې دا په هغو مسؤلینو او منسوبینو تکیه کوي چې ښايي دوی په خپله هم په کې ښکېل وي.

## V. اندېښنې او ننګونې

دا برخه هغه پراخه سیستماتیک او د مقرراتو اړوند موضوعات په ګوته کوي چې د شکایتونو د بهیر بشپړتیا، عادلانه واخلی او ټولیز اغېزمنتوب تر پوښتنې لاندې راولي.

— **د کړنلارې د صراحت نشتوالی:** د بندیزونو، نه انطباق او استیناف غوښتنې لپاره تفصیلي لارښوونې په سمه توګه نه دي تعریف شوې، چې روڼتیا او انصاف/عدالت له خطر سره مخ کوي. د وزارت یا لوړ پوړو مقامات لخوا د ترسره شویو پرېکړو د استیناف لپاره روښانه میکانیزمونه شتون نه لري چې دا د عدالت غوښتنې/حل او حساب ورکونې لارې محدودوي.

— **د خپلواکې څارنې نشتوالی:** د شکایتونو د بهیر د څارنې لپاره د خپلواکې اداري لکه د څېړونکي یا خپلواک کمېسیون نشتوالی، د شکایتونو د حل بهیر بې پرې والی او عدالت ته زیان رسولای شي. په داخلي میکانیزمونو تکیه کېدلای شي ګټو سره په ټکر کې واقع شي.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په ښې پرې والې، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښايي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه تولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

- **د غچ اخیستنې وېره:** په داسې حال کې چې قانون وزارت ته دنده سپاري چې د شاکي (شکایت کوونکو) خوندیتوب تضمین کړي، خو په عملي بڼه د خوندیتوب د پلي کېدو په اړه هیڅ مفصل احکام او مادې شتون نه لري. د تاریخي شرایطو په پام کې نیولو سره، دا یوه اندېښنه ده او ښايي د خلکو لخوا د شکایتونو د نه ثبتولو لامل شي.

- **د محکمې په جریان کې لاسوهنه:** د اوسني نظام د مسؤولینو او منسوبینو د لاسوهنې په اړه شکایتونه لومړی له مشکوّ او بیا د نه حل کېدو په صورت کې له لوړ پوړو مقاماتو سره شریکېږي. دا بهیر ښايي په اغېزمنه توګه د لاسوهنې قضیې حل نه کړي، ځکه چې دا په هغو ورته مقاماتو تکیه کوي چې ښايي په خپله په کې هم ښکېل وي. لوړ پوړو مقاماتو ته د نا حل شویو شکایتونو د لېږلو معیار په صریح ډول نه دی تعریف شوی.

## VIII. سپارښتنې

د مدني ټولنې سازمانونه او نادولتي مؤسسې کولای شي په افغانستان کې د شکایتونو د اورېدلو قانون د پلي کېدو او عامه پوهاوي ته په وده ورکولو کې مهم رول ولوبوي. لاندې ځینې ساحې ذکر شوي چې سازمانونه کولای شي په خپلو هڅو باندې پرې تمرکز وکړي:

- **د عامه پوهاوي کمپاینونه:** د مدني ټولنې سازمانونه او نادولتي مؤسسې د عامه پوهاوي کمپاینونه ترسره کړي ترڅو خلکو ته په دې قانون کې او د شکایت د ثبت بهیر لاندې د خپلو حقونو په اړه پوهاوی ورکړي. د راډیو، تلویزیون او ټولنیزې رسنۍ په ګډون د بېلابېلو رسنیزو چینلونو کارول، په اغېزمنه توګه د دغو مالوماتو په خپرولو کې مرسته کولای شي.

- **د ټولنې ښکېلتیا:** د شکایتونو د ثبت بهیر په اړه د رغنده نظرونو د راټولولو لپاره د محلي ټولنو ښکېلول او د پرمختګ لپاره د ساحو پېژندل مهم دي. د عامه فورمونو/بحثونو او عامه غونډو تنظیمول د دې ډاډ په ترلاسه کولو کې مرسته کوي چې بهیر او پروسه عامه اړتیاوو ته ځواب ویونکې ده او ډېر باور او ګډون رامنځته کوي.

- **رزونه او د ظرفیت لوړول:** د مدني ټولنې سازمانونه او نادولتي مؤسسې خپلو کارکوونکو او نورو محلي سازمانونو ته روزنیز پروګرامونه وړاندې کولای شي ترڅو د شکایتونو د اورېدلو قانون او د شکایتونو په ملاتړ کې د دوی په رولونو باندې وپوهېږي. د دغو سازمانونو د ظرفیت لوړول به د خورا اغېزمنې څارنې او د شکایتونو له بهیر څخه ډېر ملاتړ تضمین کړي.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په بې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښایي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه تولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

— **حقوقي ملاتړ او مرسته:** په برخه کې حقوقي کلینکونه د شکایتونو ثبتوونکي اشخاصو ته، په ځانګړې توګه د زیانګالو ډلو په هدف کولو سره، په وړیا حقوقي مشورو او مرستو وړاندې کولو باندې تمرکز کولای شي. شکایت کوونکو (شاکي) ته د عدالت غوښتنې او وکالت خدمتونه وړاندې کول دا تضمینولای شي چې د دوی شکایتونه په سمه توګه حل کېږي.

— **څارنه، ارزونه او څېړنه:** د مدني ټولنې سازمانونه او نادولتي مؤسسې د شکایتونو د بهیر په اړه په منظم ډول د راپور ورکولو او څارنې لپاره سیستمونه رامنځته کولای شي ترڅو روڼتیا او حساب ورکونه تضمین کړي. د ترلاسه شویو شکایتونو، د ترسره شویو اقداماتو او پایلو په اړه د ارقامو په خپرولو سره، دا سازمانونه کولای شي چې بریالیتوبونه او هغه ساحې چې ودې او پرمختګ ته اړتیا لري، په ګوته کړي. سربېره پردې، د شکایتونو په بهیر کې د نیمګرتیاوو د پېژندلو او د شواهدو پر بنسټ د حل لارو وړاندیزولو او همدارنګه د شکایتونو د بهیر په اړه د لارښونو چمتو کولو لپاره د څېړنې ترسره کول د عامه وګړو د خبرولو او روزلو لپاره ګټور تمامېدلای شي.

## IX. پایله

د شکایتونو د اورېدو قانون هڅه کوي ترڅو د اوسني حکومت د مسؤلینو او منسوبینو پر وړاندې د شکایتونو حلولو لپاره یو منظم میکانیزم رامنځته کړي چې موخه یې د عدالت او حساب ورکونې تضمینول دي. په داسې حال کې چې د روڼتیا او حساب ورکونې د ودې وړتیا لري، په ځانګړي ډول د صراحت، عادلانه بهیر او د ښکېلو اړخونو د ښکېلتیا په اړه ډېرې اندېښنې باید حل کړل شي. په دې برخه کې د مدني ټولنې د سازمانونو او نادولتي مؤسسو رول خورا مهم دی. دوی کولای شي چې د عامه پوهاوي کمپاینونو، د ټولنې د ښکېلتیا، روزنې او ظرفیت لوړونې، حقوقي ملاتړ او مرستې، څارنې او ارزونې او مستندولو او څېړنې له لارې د نیمګړتیاوو په له منځه وړلو کې مرسته وکړي. په دغو برخو باندې په تمرکز سره، د مدني ټولنې سازمانونه او نادولتي مؤسسې کولای شي د شکایتونو د میکانیزمونو په اغېزمنتیا او عامه باور کې د پام وړ ونډه ولري، دا ډاډمنه کړي چې په افغانستان کې شکایتونه په عادلانه او روڼ ډول حل کېږي. د دغو سپارښتنو پلي کول د خپلو موخو په ترلاسه کولو او د یو ډېر عادلانه او حساب ورکوونکي حکومتولۍ سیستم په رامنځته کولو کې د قانون اغېزمنتیا ته وده ورکوي.

## X. مأخذونه

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لخوا د افغانستان د قانون حاکمیت څارونکي ویب پاڼې (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د لا زیاتو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره، مهرباني وکړئ زموږ ویب پاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤولیت رفع کولو یادښت:** دا شننه یوازې د مالوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورو لپاره بدیل نده. دا شننه په بې پرې والي، غوره باور او د داسې مالوماتو په کارولو سره چمتو شوې ده چې د نوموړي سند د چمتو کولو پرمهال لیکوال ته وړاندې شوي وو. په یاد سند کې درج مالومات ښایي له مخکینۍ خبرتیا پرته بدلون ومومي او د منځپانګې د بشپړتیا یا کره وال تضمین یې نشي کېدلای. موږ په کلکه ټولو لوستونکو ته سپارښتنه کوو چې د هر ډول ځانګړې حقوقي موضوع په اړه له یو اهل خبره حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي.

دا شننه د «شکایتونو اورېدلو قانون» د ژباړل شوي متن او د افغانستان د قانون حاکمیت د څارنې ویب پاڼه (ARLO) کې د موجودو اړوندو سرچینو پر بنسټ ترسره شوې ده. د اړوندو قوانینو او څارنې چوکاټونو په اړه لا زیات مالومات د آرلو په ویب پاڼه www.arlo.online کې موندلای شئ. همدارنګه تاسو کولای شئ چې لاندې سرچینو څخه لیدنه وکړئ:

— **د اسلامي امارت د مسؤولینو او منسوبینو پر وړاندې د بې ځایه او بې بنسټه تورونو د مخنیوي په اړه د اوسني حکومت د مشرتابه استهدايې/لارښوونې (د ۲۰۲۲ زېږیز کال د جولايي د میاشتې ۱۸ مه نېټه).**

۴۰۷ ګڼه فرمان د مسؤولینو او منسوبینو پر وړاندې د ناسمو تورونو او بې بنسټه نیوکو د مخنیوي په اړه اسلامي لارښوونې بیانوي. دا فرمان ټینګار کوي چې بې ځایه آوازې او شایعات خپرول د اسلامي اصولو خلاف کار دی، ځکه چې کرکه زیاتوي، عقیده او ټولنیزې هڅې کمزورې کوي. په نوموړي فرمان کې د ربنتیا ویلو یا چوپ پاتې کېدو د اهمیت د پیاوړتیا په موخه قرآني آیتونه او حدیثونه راغلي دي. په فرمان کې راغلي چې د حرکاتو، وینا او ینا نورو وسیلو له لارې د علماوو، دولتي منسوبینو، سرتېرو او د محکمو قاضیانو په ګډون د دولتي کارکونکو سپکاوی د مجازاتو وړ دی. دا فرمان همدارنګه په ګوته کوي چې د قضايي غونډو ګډوډول او د نظم زیانمنول هغه جرمونه دي چې باید مجازات شي. دا سند د ټولو خلکو، مجاهدینو او رسنیو شرعي مسؤولیت په ګوته کوي ترڅو دغه لارښوونې رعایت کړي.

— **۱۹ ګڼه فرمان (رسمي جریده ۱۴۳۲)**

دا فرمان نظامي محکمو ته صلاحیت او واک ورکوي چې د دریو امنیتي ارګانونو د مسؤولینونو او منسوبینو پر وړاندې د شکایتونو په اړه پرېکړه وکړي او د استیناف غوښتنه وکړي، د شرعي احکامو سره سم د لوړ پوړو محکمو له تصویب او تائید سره سم یې پرېکړې پلي کړي.